داشتراك بیه
په کابل کښی ۲۲۰ افغانی
په ولایاتو کښی ۲۴۰ «
په باندنیوهیوادونوکښی ۱۰ امریکائی دالره
دیوی گڼی بیه : لس افغانی

# رسمی جریده

دافغانستان دپادشاهی دولت رسمی خپرونه

دامتیاز خاوند : دعدلیې وزارت
مسئول مدیر : محمد حسین روستائی
تلفون : ۲۳۳۳۰
پته : رسمی جریده کابل افغانستان

۱۲ گڼه — دسنبلی ۳۱ د۱۳۴۷ هجری شمسی کال — د ۱۹۶۸ ع کال دسپتمبر ۲۲ — پر له پسی گڼه (۱۱۳)


## د معظم ټولواك همایونی اعلیحضرت له حضوره د۱۳۴۷ ه ش کال د سنبلی د۲۳ نیټی ۶۰۷ ـ ۲۳۱۵ گڼه تقنینی فرمان

**ع،ج،س،ع داکتر علی احمد پوپل دصدارت وکیل!**

دپوهنتون دقانون ذطرحیپه باب دوزیرانو دعالیمجلس د ۱۳۴۷ کال دسنبلی دنولسمی نیټی ۱۹۷۷ گڼه‌تصویبچه منظوری‌ئی‌دشوری‌دتعطیل له‌وخت سره تصادف کړیدی نفا ذئی‌داساسی قانون‌د (۷۷ ) مادی دحکم مطابق ز مونږ له حضوره منظور اوپه‌دی فرمان تائید یږی.

دپوهنتون قانون په رسمی جریده‌کښی له خپریدونه وروسته‌نافذدی تاسو جناب جلالتمآب زمونږ دحضور دا اراده مربوطو دایروته ابلاغ اودالارښودنه هم وکړیءچه دغه قانون دشوری دبیا غونډیدو په وخت داساسی قانون د (۷۷) مادی دحکم مطابق دنهائی مرحلو دپوره کولو دپاره شوری‌ته ولیږل شی .

**دملوکانه حضوربنکولنځی**

## دصدارت عظمی د مقام۱۳۴۷ کال‌دسنبلی‌دخلیرویشتمی‌نیټی ۲۰۲۱ گڼه فرمان

**ع،ج پوهاند محمداصغر عدلیه وزیر !**

دوزیرانو مجلس د ۱۳۴۷ کال دسنبلی دنولسمی نیټی په غونډه کښی دپوهنتون دقانون د طرحی په باب دپوهنی دوزارت (پوهنتون) د۱۳۴۷ کال دسنبلی دشپاړسمی نیټی د ۲۳۰گڼه عرض پاڼی دکتنی‌له‌مخه اود۱۳۴۴ کال دحوت دیوولسمی نیټی د ۱۹۲۸ گڼه تصویب پلوله‌یادونی سره‌چه دهغه په موجب دپوهنتون دقانون طرح داصولی مراحلو دپوره کولو دپاره‌شوری‌ته لیږل شوی‌وه اود۱۳۴۷کال دسنبلی دشپاړلسمی‌نیټی د۲۳۰ عرض پاڼی دمندرجاتو له پاملرنی سره اوهم‌داچه ددغه قانون دمطالعی دختم فرصت لاتراوسه په شوری کښی نه دی حاصل شوی اودځنډ دموضوع اودتقنینی فرمان اخستلو په باب په مکتوب کښی داولسی جرگی له‌خوا یادونه شوی‌ده دالاندی مراتب تصویب کړل :

۱ـ الف: دپوهنتون د قانون‌طرح د پو هنتون د ریاست ددی عرض پاڼی مطابق په نهوفصلونو اویوخلویښت مادوکښی چه ددی‌تصویب ضمیمه اودارالانشاء مهرپری لگیدلی دی منظور دی .

ب: له دی کبله چه دی منظوری دشوری دتعطیل سره تصادف کړی‌دی نونفاذ دی‌ئی داساسی قانون‌د۷۷ مادی دحکم مطابق د ملوکانه حضور په تقنینی فرمان و غوښتل‌شی .

۲ـ موضوع‌دی داساسی قانون‌دپورتنی مادی دحکم‌سره‌سم دشوری دلومړی غونډی‌نه پس په دیرشو ورځوکښی دننه شوری‌ته وسپارله‌شی.

ددی تصویب دمراتبو په باب‌چه‌دمعظم ټولواك همایونی اعلیحضرت دحضور دصحی نه تیرشوی دی اوصدارت عظمی‌ته د ۱۳۴۷کال دسنبلی د۲۳ نیټی په ۶۰۶ ـ ۲۳۱۴حکم‌په وسیله ابلاغ شوی‌دی تاسوجلالتمآب‌ته اطلاع درکړ شوه چه دهغی مطابق‌اجراآت وکړیء .

**دصدارت دوکیل**

**داکتر علی‌احمدپوپل لاسلیک ځای**

## فرمان تقنینی نمبر (۶۰۷ ـ ۲۳۱۵) تاریخ ۲۳سنبله ۴۷حضور اعلیحضرت معظم همایونی

**ع،ج،س،ع دکتور علی‌احمد پوپل وکیل صدارت !**

تصویب شماره ۱۹۷۷ مورخ ۱۹ سنبله ۱۳۴۷ مجلس عالی وزراء راجع‌به‌طرح‌قانون‌پوهنتون‌که منظوری‌آن بوقت تعطیل شوری متصادف گردیده نفاذ آن طبق حکم مادهٔ (۷۷) قانون اساسی ازحضور مامنظور وبوسیلهٔ این فرمان تائید میشود.

قانون پوهنتون بعد ازنشر درجریدهٔ رسمی نافذ است .

جناب جلالتمآب شما این ارادهٔ حضور مارا بدوایر مربوطه ابلاغ‌ونیز هدایت بدهید تاموضوع حین انعقاد مجدد جلسه شوری طبق حکم مادهٔ (۷۷) قانون اساسی برای طی مراحل نهائی‌به شوری ارسال شود .

**محل صحهٔ حضور ملوکانه**

## فرمان نمبر (۲۰۲۱) مورخ ۲۴ر۶ر۴۷ مقام منیع صدارت عظمی

**ع،ج پوهاند محمداصغر وزیر عدلیه !**

مجلس وزراء تحت فیصلهٔ شما ره(۱۹۷۷) در جلسهٔ تاریخی ۱۹ر ۴۷۶ باملاحظهٔ ورقهٔ عرض (۲۳۰) مورخ۱۶ر۶ر۴۷ وزارت معارف (پوهنتون) راجع‌به طرح قانون پوهنتون باتذکرتصویب‌شماره (۱۹۸۲) مورخ۱۱حوت ۱۳۴۴که بموجب طرح قانون پوهنتون برای طی‌مراحل اصولی به شوری تقدیم شده‌بود وبادرنظر گرفتن مندرجات ورقهٔ عرض شماره (۲۳۰) مورخ ۱۶ر۶ر۴۷ واینکه فرصت ختم مطالعهٔ آن درشوری تاکنون میسرنگردیده است وچنانکه موضوع این تأخیر ولزوم حصول فرمان تقنینی مکتوباً ازطرف ولسی جرگه تذکر داده شده‌است مراتب آتی‌را تصویب نمود :

۱ـ الف: طرح قانون پوهنتون مطابق ضمیمهٔ این‌ورقهٔ عرض‌ریاست پوهنتون مشتمل بر(۹) فصل‌و(۴۱)ماده منضمهٔ این تصویب‌که به مهر دارالانشاء رسیده است منظوراست.

ب ـ چون این منظوری بوقت تعطیل شوری متصادف گردیده نفاذ آن طبق حکم ماده (۷۷) قانون اساسی ازطریق فرمان تقنینی ازحضور ملوکانه آرزو برده شود .

۲ـ موضوع مطابق مادهٔ مذکور قانون اساسی طی سی‌روز بعد از نخستین جلسهٔ شوری بشوری تقدیم گردد .

مراتب این تصویب‌که ازصحهٔ حضور اعلیحضرت معظم همایونی گزارش یافته و به وسیلهٔ حکم شماره ۶۰۶ ـ ۲۳۱۴ ـ ۲۳ر۶ر۴۷ به صدارت عظمی ابلاغ گردیده به جلالتمآب شما اطلاع داده شد تاطبق‌آن تعمیل نمائید .

**محل امضاء دکتور علی‌احمد پوپل**

**وکیل صدارت عظمی**

رسمی جریده

هرپانزده روز یکمراتبه نشر میشود

## مطالب

لومړی فصل ـ عمومی احکام
دوهم فصل ـ دپوهنتون عالی شوری
دریم فصل ـ دپوهنتون علمی شوری
څلورم فصل ـ دپوهنتون رئیس
پنځم فصل ـ پوهنځی اومؤسسی
شپږم فصل ـ دپوهنتون علمی غړی
اووم فصل ـ دپوهنتون محصلان
اتـم فصل ـ مالی چاری
نهـم فصل ـ متفرق احکام

**بسم‌الله الرحمن الرحیم**

## دپوهنتونونو قانون

## لومړی فصل

## عمومی احکام

**لومړی‌ماده:ـ** پوهنتون د پوهنځی‌یاپـوهنځیـو او عـلمـی مـؤ سسو نه جوړه شوی دولتی مؤسسه ده چه دعالی تعلیماتو (مجاز درجه اودهغی نه پورته) دتنظیم اوپه هغوپوری دمربوطو چارو دسرتـه رسولو دپـاره جوړیږی اودپوهنتون اسا سی مقصددعلم اوفن ساتنه، پراختیا اومخکښی تگ اوپه ځوانانوکښی دفردی اواجتماعی مسئولیت داحساس قوی کول اودافغانی اوبشری‌ټولنی دخدمت‌دپاره‌داسلامی ، ملی، قا نونی او سیا سی ارزښتونو دفهم په باب دهغو روزل دی .

**دوهمه ماده :ـ** دحکومت‌سره‌دپوهنتون‌ارتباط دپوهنتون دعالی‌شوری درئیس په وسیله اجراء کیږی .

**دریمه ماده :ـ** دپوهنتون تأسیس اودهغه دځای ټاکنه دپوهنی‌دوزیر په پیشنهاد، دوزیرانو دعالی مجلس په تصویب‌اودشاهانه حضور په‌صحه کیږی .

**څلورمه ماده :ـ** پوهنتون یوعلمی‌محیط دی،سیاسی اوحزبی‌تحریکات دپوهنتون په سیمه کښی منع دی .

## دوهم فصل

## دپوهنتون عالی شوری

**پنځمه ماده :ـ** عالی شوری هغه ټولنه ده‌چه دافغانستان داجتماعی اقتصادی اوثقافتی حوایجو ترمنځ دپرله پسی تنظیم اوانسجام ساتنـی دپاره په هغه ډول‌چه دحکومت له خوا تثبیت کیږی اودپوهنتون دعالـی تعلیماتو او مقتضیاتو دپـاره جـوړه‌شوی ده.

**شپږمه ماده :ـ** دپوهنتون دعالی شوری غړی دادی :

۱ـ دپوهنی وزیر درئیس په حیث .
۲ـ مالیه وزیر .
۳ـ دپلان وزیر .
٤ـ دپوهنتون رئیس .
٥ـ څلورنورغړی دمملکت دسرویستلو پوهانوله منځه چه‌دپوهنتون په علمی اواداری چارو کښی دتجربی‌خاوندان‌وی اودعالی‌شوری په‌غړیتوب بـاندی دانتخابیدونه اقلاتردوه کاله پخوا مودی پوری کوم سیاسی حزب ته منسوب شوی نه وی دپوهنی دوزیر په پیشنهاد، دحکومت‌په منظوری اودشاهانه حضور په صحه ټاکل کیږی .

**اوومه ماده :ـ** دعالی شوری صلاحیتونه دادی :

۱ـ دپوهنتون دعمومی تگ لاری څیړنه اوتصویب .
۲ـ دپوهنځیو درئیسانو، مرستیالانو اودپوهنتون ددائمی‌اوافتخاری علمی غړو دمقرری اولری کولو په باب درائی څرگندول .
۳ـ دپوهنتون دبودجی په باب څیړنه اورأیه څرگندول .
٤ـ دپوهنتون دپلان اوپروژو اوعمرانی نقشو په باب څیړنه‌اورایه څرگندول .
٥ـ دپوهنځیو اومؤسسو دجوړولو، ړنگولو، الحاق اوتوأمیت‌په‌باب حکومت ته پیشنهاد کول .
٦ـ دقوانینو په حدودوکښی دننه دپوهنتون دوظایفو دتنظیم دپاره دلوائحو اوطرزالعملونو جوړول .

## مطالب

فصل اول ـ احکام عمومی
فصل دوم ـ شورای عالی پوهنتون
فصل سوم ـ شورای علمی پوهنتون
فصل چهارم ـ رئیس پوهنتون
فصل پنجم ـ پوهنځی ها ومؤسسات
فصل ششم ـ اعضای علمی پوهنتون
فصل هفتم ـ محصلان پوهنتون
فصل هشتم ـ امور مالی
فصل نهم ـ احکام متفرق

**بسم‌الله الرحمن الرحیم**

## قانون پوهنتون هـا

## فصل اول

## احکام عمومی

**مادۀ اول:ـ** پوهنتون مؤسسۀدولتی ایست متشکل از پوهنځی یا پوهنځی‌ها ومؤسسات علمی‌که برای‌تنظیم تعلیمات‌عالی(درجۀمجازومافوق آن) وانجام‌خدمات مربوط بآن‌تأسیس‌میشودوهدف اساسی‌پوهنتون عبارت است‌از: صیانت، توسعه‌وپیشبردعلم‌وفن وتقویۀ حس مسئولیت فـردی واجتماعی جوانان وتربیت آنهادرفهم‌ارزشهای اسلامـی ، ملی ، قانونی سیاسی برای خدمت بجامعه افغانی وبشری.

**ماده‌دوم:ـ** ارتباط پوهنتون با حکومت توسط رئیس شـورای عا لی عالی پوهنتون صورت میگیرد.

**مادۀسوم:ـ** تـأ سیس پو هنتون وتعیین محل آن با ثر پیشنهـاد وز یر معارف وتصویب مجلس عالی وزراء وصحه شاهانه صورت میگیرد.

**مادۀ چهارم :ـ** پوهنتون محیطی است علمی‌تحریکات سیاسی‌وحزبی درساحۀ پوهنتون ممنوع است .

## فصل دوم

## شورای عالی پوهنتون

**مادۀ پنجم :ـ** شورای عـالـی مجمعی است کـه برای تنظیم وحفظ انسجام متوالی بین حوایج اجتماعی، اقتصادی، ثقافتی افغانستان طوریکه ازطرف حکومت تثبیت میگردد ومقتضیات تعلیمات عالی پوهنتـون بوجود آمده است .

**مادۀ ششم :ـ** شورای عالی پوهنتون مشتمل است بر :

۱ـ وزیر معارف بحیث رئیس .
۲ـ وزیر مالیه .
۳ـ وزیر پلان .
٤ـ رئیس پوهنتون .
٥ـ چار عضو دیـگر ازبین علمای برازندۀ مملکت‌کـه درامور علمی واداری پوهنتون دارای تجربه بوده واقلا تادوسال‌قبل ازتعیین‌به عضویت شورای عالی بکدام حزب سیاسی منسوب نباشند به پیشنهاد وزیرمعارف ومنظوری حکومت وصحۀ شاهانه تعیین میگردند .

**مادۀ هفتم:ـ** صلاحیت های شورای‌عالی عبارت است از:

۱ـ مطالعه وتثبیت خط مشی عمومی پوهنتون ،
۲ـ اظهار نظر راجع بـه پیشنهاد مربوط به تقرر وانفـکاك رؤسا ومعاونین پوهنځی ها ومؤسسات واعضای علمی دائمی وافتخاری‌پوهنتون.
۳ـ مطالعه واظهار نظر راجع به بودجۀ پوهنتون .
٤ـ مطالعه واظهـار نظر راجع بـه پلان وپـروژه ها و نقشه های عمرانی پوهنتون .
٥ـ پیشنهاد به حکومت راجع‌به‌تأسیس ـ انحلال ـ الحاق و توأمیت پوهنځی ها ومؤسسات .
٦ـ وضع لوائح وطرزالعمل‌ها جهت‌تنظیم واجرای وظائف پوهنتون درحدود قوانین

**اتمه ماده :ـ** عالي شوری هر کال په عادی ډول څلور واری غونډه کوی اودضرورت په وخت دکم نه‌کم څلوروغړو یادپوهنتون دریاست په غوښتنه زیاتی غونډی جوړیږی .

**نهمه ماده :ـ** دعالي شوری تصویبونه دعالي شوری دغړو داکثریت له مخه کیږی .

**لسمه ماده:ـ** دعالي شوری غړیتوب دهغو کسانو دپاره‌چه دماموریت په‌کدرکښی شامل وی هیڅ ډول‌مادی‌ښیګړه نه لری .

**یوولسمه ماده :ـ** دعالي شوری څلور انتصابی غړی دڅلورو کلونو په موده ټاکل کیږی بی‌دعالي شوری دلومړی دوری څخه چه په هغی‌کښی دوه غړی ددووکلونو اودوه دڅلوروکلونو په موده ټاکل کیږی. داغړی کولی‌شی‌چه یوه یاځونوری دوری‌هم‌وټاکل شی .

**دولسمه ماده :ـ** ددی قانون داحکامو له رعایت سره دعالي شوری دهرغړی صلاحیت دپوهنتون په چارو کښی په رسمی غونډو پوری محدود دی .

## دریم فصل
## دپوهنتون علمی شوری

**دیارلسمه ماده :ـ** دپوهنتون علمی شوری هغه ټولنه ده‌چه په علمی اوتربیتی چارو اودهغو په مربوطو مسئلو باندی غورکوی اولازمی فیصلی کوی .

**څوارلسمه ماده :ـ** علمی شوری دپوهنتون درئیس، مرستیالانو اود پوهنځیو اومؤسسو درئیسانو اودهرپوهنځی اومؤسسی له دوونمایندګانو جوړه ده .

**پنځلسمه ماده :ـ** دعلمی شوری ریاست دپوهنتون درئیس په غاړه دی .

**شپاړسمه ماده :ـ** دهرپوهنځی اومؤسسی نمایندګان د پوهنځی اومؤسسی دپوهاندانو، پوهنوالانو، پوهندویانو او پوهنملانو له منځه دعلمی غړوله خوا په سری اومستقیمه رای‌ګیری دتعلیمی کال‌په سرکښی دیوکال په موده انتخابیږی اوددغی مودی له تیریدو وروسته بیا هم انتخابیدی شی .

**اوولسمه ماده :ـ** که چیری په عالي شوری‌کښی دیونماینده ځای خالی‌شی نودمربوط پوهنځی اومؤسسی داستاذانو مجلس نوی‌غړی دپاتی مودی دپاره انتخابوی .

**اتلسمه ماده :ـ** دعلمی شوری صلاحیتونه دادی :

۱ـ دپوهنتون په باب دمقرراتو جوړولو پیشنهاد .

۲ـ دپوهنتون دعلمی غړو ددرجو اوعلمی ترفیعاتو تثبیت .

۳ـ دپوهنځیو اومؤسسو دجوړولو، ړنګولو، الحاق اوتوأمیت په‌باب عالي شوری‌ته دپیشنهاد وړاندی کول .

٤ـ دتدریسی چارو دسمون، علمی پلټنوپه‌باب‌تصمیم اودمجازدرجی نه داوچتو علمی درجو دورکړی اومنځ‌ته راوړلو په باب لازمی سپارښتنی .

٥ـ دپښتوژبی دانکشاف اوتقوییهٔ دپاره د پوهنتون په ټولوساحو کښی دیومؤثر پروګرام اودهغی دعلمی کولو دپاره دپروګرامونو جوړول .

**نولسمه ماده :ـ** دعلمی شوری د غونډو شمیر اونصاب په هغه طرزالعمل کښی تنظیم کیږی‌چه دپوهنتون دعالي شوری‌له خوا جوړیږی .

**شلمه ماده :ـ** دپوهنتون علمی شوری دضرورت‌په صورت کښی‌هغه موضوعات‌چه په صلاحیت‌کښی‌ئی داخل‌دی هغه دائمی یاموقتی کمیسیون‌ته چه دپوهنتون دعلمی غړونه جوړیږی‌راجع‌کوی‌ـعالي شوری‌اوکمیسیونونه په مناسبوموارد‌وکښی دنورو پوهانو،خبراء و اودتوأمیت دخارجی‌هیئتونو څخه مشوره واخلی .

## څلورم فصل
## دپوهنتون رئیس

**یوویشتمه ماده :ـ** دپوهنتون رئیس دپوهنتون لوی آمردی اوعالي شوری‌ته مسئولیت لری .

**دوه ویشتمه ماده :ـ** دپوهنتون رئیس دپوهنتون دعلمی غړوله‌جملی اویادمملکت دسرویستلو علمی شخصیتونو له منځه د پوهنی د وزیر په پیشنهاد، دحکومت په منظوری اودشاهانه حضور په صحه‌ټاکل کیږی .

**مادهٔ هشتم :ـ** شورای عالی هرسال به صورت عادی چهار مرتبه تشکیل جلسه میدهد ودرصورت لزوم بنابرتقاضای حداقل چهار عضو باریاست پوهنتون جلسات اضافی دایر میگردد .

**مادهٔ نهم :ـ** تصاویب شورای عالی باکثریت آرای اعضای شورای عالی صورت میگیرد .

**مادهٔ دهم :ـ** عضویت درشورای عالی درمورد کسانیکه درکدر ماموریت شامل باشند متضمن هیچ نوع امتیازی مادی نمیباشد .

**مادهٔ یازدهم :ـ** چار عضو انتصابی‌شورای عالی برای‌مدت چهارسال تعیین میگردند .

باستثنای دورهٔ اول شورای عالی‌که درآن دوعضو برای دوسال دوعضو دیگر برای چهار سال تعیین میشوند. این اعضاء میتوانند برای یك یاچند دوره مجدداً تعیین گردند .

**مادهٔ دوازدهم :ـ** بارعایت احکام این قانون‌صلاحیت هرعضوشورای عالی درامور پوهنتون محدود به جلسات رسمی آنست .

## فصل سوم
## شورای علمی پوهنتون

**مادهٔ سیزدهم :ـ** شورای علمی پوهنتون مجمعی استکه برامور علمی و تربیتی ومسایل مربوط بآن وارسی کرده و تصمیمات لازم اتخاذ مینماید .

**مادهٔ چاردهم :ـ** شورای علمی متشکل است ازرئیس ـ معاونین پوهنتون ورؤسای پوهنځی ها و مؤسسات ودو نماینده ازهرپوهنځی ومؤسسه .

**مادهٔ پانزدهم :** ـ ریاست شورای علمی بعهده رئیس پوهنتون میباشد .

**مادهٔ شانزدهم :ـ** نمایندگان هرپوهنځی ومؤسسه درشورای علمی ازبین پوهاندها پوهنوال‌ها پوهندوی‌ها وپوهنمل های پوهنځی ومؤسسه از طرف اعضای علمی آن در شروع سال تعلیمی برای مدت یکسال به رای‌گیری سری ومستقیم انتخاب میگردند وبعد ازانقضای این مدت میتوانند مجدداً انتخاب شوند .

**مادهٔ هفدهم :ـ** هرگاه کرسی یکی‌ازنمایندگان درشورای علمی خالی شود مجلس استادان پوهنځی ومؤسسه مربوطه عضو جدیدی برای بقیهٔ مدت انتخاب میکنند .

**مادهٔ هجدهم :ـ** صلاحیت های شورای علمی عبارت است از:

۱ـ پیشنهاد وضع مقررات مربوط به پوهنتون .

۲ـ تثبیت درجات وترفیعات علمی اعضای علمی پوهنتون .

۳ـ پیشنهاد بشورای عالی درمورد تأسیس ـ انحلال ـ الحاق وتوامیت پوهنځی ها ومؤسسات .

٤ـ اتخاذ تصمیم درمورد اصلاح امور تدریسی وتتبع علمی واصدار توصیه های لازم راجع به ایجاد واعطای درجات علمی بالاتر ازدرجهٔ‌مجاز.

٥ـ وضع یك پروگرام مؤثر برای انکشاف و تقویهٔ زبان پشتو درتمام ساحات پوهنتون وطرح پروگرامهای علمی ساختن آن .

**مادهٔ نزدهم ؛ـ** تعداد جلسات ونصاب مجلس شورای علمی توسط طرز العملی که از طرف شورای عالی پوهنتون وضع میشود تنظیم میگردد .

**مادهٔ بیستم :ـ** شورای‌علمی پوهنتون‌درصورت لزوم موضوعاتی‌راکه درصلاحیت اواست به کمیسیون های مؤقتی یادائمی‌که ازاعضای علمی پوهنتون تشکیل میشود ارجاع مینماید .

شورای علمی وکمیسیونها درموارد مقتضی میتوانند از سایر علماء واهل خبره وهیأتهای توامیت خارجی استشاره نمایند .

## فصل چهارم
## رئیس پوهنتون

**مادهٔ بیست ویکم :ـ** رئیس پوهنتون آمرعمومی پوهنتون بوده ونزد شورای عالی مسئولیت دارد .

**مادهٔ بیست ودوم :ـ** رئیس پوهنتون ازجمله اعضای علمی پوهنتون ویا از شخصیت های برازندهٔ علمی مملکت به پیشنهاد وزیر معارف ومنظوری حکومت وصحهٔ ذات شاهانه تعیین میگردد .

رسمی جریده بزبانهای پښتو ودری نشر میشود

**درویشتمه ماده :ــ** دپوهنتون درئیس صلاحیتونه دادی :

۱ــ دثقافتی، علمی اواجتماعی چارو دپروگرامونو تطبیق اودعالی شوری اوعلمی شوری دتصویبونو اودپوهنتون دلوائحو اومقرراتو اجراء .

۲ــ دپوهنتون دمالی اواداری چارو تنظیم اوپه پوهنتون‌کښی دنظم اودسپلین خوندی ساتل .

۳ــ دمحصلانو دحالت ښه کیدو دپاره دتدبیرونو غوره کول‌اودهغو دپاره دممکنو آسانیو برابرول .

٤ــ دذیعلاقه مؤسسو سره دروابطو ساتنه .

٥ــ دپوهنځیو دمرستیالانو اوعلمی غړو دمقرری په باب نظریه څرګندول اوعالی شوری‌ته دهغو پیشنهاد وړاندی کول .

٦ــ دهغو مسئلو په‌باره کښی‌چه په دی قانون کښی څرګندنه‌دی ذکرشوی علمی شوری اوعالی شوری‌ته دلوایحو اوطرزالعملونو دجوړولو پیشنهاد .

## پنځم فصل
## پوهنځی‌اومؤسسی

**څلیرویشتمه ماده :ــ** هرپوهنځی‌اومؤسسه دخپلو حالاتو اوضرورتونو له مخه ددی قانون دروحیی مطابق یوه ځانګړی اساسنامه جوړوی‌چه دعلمی شوری دتصویب اوعالی شوری دمنظوری نه پس نافذیږی .

**پنځه ویشتمه ماده :ــ** پوهنځی اومؤسسی کولی‌شی چه دخپلو ضرورتونوله مخه دپوهنتون درئیس په وسیله عالی شوری‌ته دنویوڅانګو دجوړولو پیشنهاد وکړی .

**شپږویشتمه ماده :ــ** دهرپوهنځی اومؤسسی رئیس دخپل پوهنځی اومؤسسی دعلمی اواداری چارو مسئول دی اودپوهنځی یامؤسسی‌ارتباط دپوهنتون له ریاست سره قایموی .

**اووه ویشتمه ماده :ــ** دپوهنځیو اومؤسسو رئیسان دپوهنتون‌دعلمی غړوله منځه دپوهنتون درئیس په پیشنهاد اودعالی شوری په موافقه‌دیوی څلورکلنی دوری دپاره مقرریږی، ددی مودی د تیریدو نه وروسته دوی بیاهم مقرریدی شی .

**اته ویشتمه ماده :ــ** دهرپوهنځی اومؤسسی دمرستیالانو او علمی غړو مقرری اولری کول ددغه پوهنځی درئیس په پیشنهاد اودپوهنتون اوعالی شوری په موافقه دقانونی مراحلودپوره کیدونه پس اجراء کیږی.

## شپږم فصل
## د پوهنتون علمی غړی

**نهویشتمه ماده :ــ** دپوهنتون علمی غړی هغه څوك‌دی‌چه دپوهنتون داساسنامی مطابق یوه علمی درجه ولری او کارئی په پوهنتون کښی تدریس یاعلمی څیړنه وی. دا اشخاص د علمی غړیتوب دمعنوی اومادی ښیګڼونه فایده اخلی خوکه دپوهنتون نه بهروظیفه ونیسی امتیازات ئی قطع کیږی اودپوهنتون دعلمی غړیتوب نه وځی .

**دیرشمه ماده :ــ** دامتیازونو درجی، ددرجی نیولو شرطونه اودعلمی غړو نوری چاری دپوهنتون دځانګړو مقرراتو مطابق ټاکل کیږی .

**یودیرشمه ماده :ــ** ددی قانون دنورو احکامو درعایت سره سره دهرپوهنځی اومؤسسی دعلمی غړو انتخاب، د پروګرامونو دبرابرولو اوتعدیل په باب غور اوفیصله، دتدریسی‌چاروسمون‌اوښه والی،امتحانونه اودغسی نوری چاری د مربوط پوهنځی او مؤسسی د علمی مجلس صلاحیت دی .

**دوه دیرشمه ماده :ــ** دپوهنتون علمی‌غړی دتدریس اوڅیړنی نه‌علاوه دمحصلانوپه روزنه اولارښودنه کښی‌دپوهنځیو د رئیسانو او دپوهنتون له رئیس سره ګډ مسئولیت لری .

## اووم فصل
## دپوهنتون محصلان

**دری دیرشمه ماده :ــ** دپوهنتون محصلان دهغوکسانو له جملی‌څخه چه دبکلوریا دپلوم یائی معادل لری دمملکت په پوهنتونونوکښی دځائیدو په اساس اودپوهنتون‌دځانګړی‌طرزالعمل مطابق‌منل‌کیږی. په‌دی‌طرزالعمل کښی به دهیواد دولایاتو دلیسو اوښوونځیو دفارغانو دپاره په ټول افغانستان کښی دپوهنی دمتوازنی پراختیا دروحیی له پاملرنی سره دتیاری دصنفونو جوړیدل‌هم په نظرکښی ونیول شی .

**مادهٔ بیست وسوم :ــ** صلاحیت های رئیس‌پوهنتون عبارت است‌از:

۱ــ تطبیق پروگرامهای فرهنگی ــ علمی وخدمات اجتماعی واجرای تصاویب شورای عالی وشورای علمی ولوائح ومقررات پوهنتون .

۲ــ تنظیم امور مالی واداری‌پوهنتون وتأمین نظم و دسپلین‌درآن.

۳ــ اتخاذ تدابیر برای بهبود وضع محصلان وفراهم نمودن‌تسهیلات ممکنه برای آنها .

٤ــ حفظ روابط بامؤسسات ذیعلاقه .

٥ــ ابراز نظر درمورد تقرر معاونین پوهنځی‌ها و اعضای علمی وپیشنهاد آنها به شورای عالی .

٦ــ پیشنهاد وضع لوائح وطرزالعمل ها درمورد مسائلی‌که دریــن قانون صریحاً ذکرنشده است به شورای علمی وشورای عالی .

## فصل پنجم
## پوهنځی ها ومؤسسات

**مادهٔ بیست وچارم :ــ** هرپوهنځی ومؤسسه نظربه شرایط وایجابات خود مطابق روحیه این قانون اساسنامه جداگانه ترتیب میدهدکه پس ازتصویب شورای علمی ومنظوری شورای عالی نافذ میگردد .

**مادهٔ بیست وپنجم :ــ** پوهنځی ها ومؤسسات میتوانند بنابرایجابات خود تشکیل شعبات جدید را توسط رئیس پوهنتون به شورای عالی پیشنهاد کنند .

**مادهٔ بیست وششم :ــ** رئیس هرپوهنځی ومؤسسه مسئول امور علمی واداری پوهنځی‌ومؤسسه مربوطه خود بوده‌ارتباط پوهنځی‌ومؤسسه را باریاست پوهنتون قایم مینماید .

**مادهٔ بیست وهفتم :ــ** رؤسای پوهنځی‌ها ومؤسسات ازبین اعضای علمی پوهنتون باثر پیشنهاد رئیس پوهنتون وموافقت شورای عالی برای یك دورهٔ چهار ساله مقرر میشوند بعد ازانقضای این مدت میتوانندمجدداً مقرر گردند .

**مادهٔ بیست وهشتم :ــ** تقرر وانفکاك معاونین هرپوهنځی ومؤسسه واعضای علمی آنها به پیشنهاد رئیس پوهنځی مربوطه وموافقت رئیس پوهنتون وشورای عالی بعدازطی مراحل قانونی صورت میگیرد .

## فصل ششم
## اعضای علمی پوهنتون

**مادهٔ بیست ونهم :ــ** عضوعلمی پوهنتون‌کسی‌است‌که طبق‌اساسنامه پوهنتون حایز یکی ازدرجات علمی بوده شغل اوتدریس یاتحقیق علمی درپوهنتون باشد .

این اشخاص ازامتیازات معنوی ومادی عضویت علمی استفاده‌میکنند اما‌اگر درخارج پوهنتون وظیفه‌ای‌را اشغال نمایند امتیازات شان قطع وازعضویت علمی پوهنتون منفك میگردند .

**مادهٔ سیم :ــ** درجات امتیازات شرایط احرازدرجه وسائر امورمربوط باعضای علمی مطابق مقررات جداگانهٔ پوهنتون تعیین میگردد .

**مادهٔ سی‌ویکم :ــ** بارعایهٔ سائر احکام این قانون انتخاب‌اعضای‌علمی هرپوهنځی ومؤسسه رسیدگی واخذ تصمیم درموضوع تهیه وتعدیل پروگرام هاــ اصلاح وبهبود امور تدریسی چگونگی امتحانات وامورمشابه آن ازصلاحیت مجلس علمی پوهنځی ومؤسسهٔ مربوطه میباشد .

**مادهٔ سی‌ودوم :ــ** اعضای علمی پوهنتون علاوه برتدریس وتحقیق درتربیه و رهنمائی محصلان بارؤسای پوهنځی ها و رئیس پوهنتون مسئولیت مشترك دارند .

## فصل هفتم
## محصلان پوهنتون

**مادهٔ سی وسوم : ــ محصلان** پوهنتون از جمله کسانیکه دارای دپلوم بکلوریا ویامعادل آن باشند براساس گنجایش پوهنتون‌های مملکت ومطابق طرزالعمل جداگانه پوهنتون پذیرفته میشوند این طرزالعمل‌دائر شدن صنوف تهیه را برای برخی ازفارغان لیسه‌ها ومکاتب ولایات کشور بادرنظر گرفتن روحیه تعمیم متوازن معارف درسرتاسر افغانستان نیز پیش بینی خواهد کرد .

**څلور دیرشمه ماده:ــ** محصلان کولی‌شی‌چه په ادبی، هنری‌اوورزشی فعالیتونو باندی بوخت‌شی. په پوهنتون کښی ادبی اوهنری پروګرامونه هیڅ کله داسلامی اساساتو او ملی ثقافت مخالف کیدی نه شی . دپوهنتون دمقرراتو مطابق سیاسی مباحثی جواز لری .

**پنځه دیرشمه ماده :ــ** دمحصلانو ترمنځ یوله بل‌سره دهمکاری دفضا راپیداکولو اودښه تفاهم اودیوبل نه دعلمی اوعملی تجربو اخستلو اوله پوهنتون سره دارتباط قایمولو دپاره دټولنو دقانون مطابق‌دمحصلینو ټولنه جوړیدلی شی .

**شپږ دیرشمه ماده :ــ** محصلان مکلف دی‌چه په پوهنتون کښی‌دننه په هغه یونیفورم ملبس وی‌چه دوطنی ټوټی‌نه جوړیږی. ددی یونیفورم رنګ اوطرز په یوه ځانګړی لایحه‌کښی تنظیم کیږی .

## اتم فصل
## مالی چاری

**اووه دیرشمه ماده :ــ** دپوهنتونونو بودجه ددولت‌له خواپوره کیږی. پوهنتونونه کولی‌شی‌چه دخپلی ترقی دپاره دحقیقی اوحکمی، داخلی او خارجی اشخاصو بخشش ومنی. دبخشش منل دپوهنتون دعالی شوری صلاحیت دی .

**اته دیرشمه ماده :ــ** دپوهنتون بودجه دپوهنتون دریاست‌په وسیله جوړیږی اودپوهنتون د عالی شوری له تائید نه وروسته حکومت ته وړاندی کیږی .

**نه دیرشمه ماده :ــ** دپوهنتونونو مالی اوحسابی چاری یومخ ددولت دقوانینو اومقرراتو تابع دی. یواځی په خاصو علمی برخوکښی دپوهنتون عالی شوری خاص مقررات لګولی شی .

## نهم فصل
## متفرق احکام

**څلویښتمه ماده :ــ** داقانون‌په رسمی جریده‌کښی‌دخپریدونه‌وروسته نافذیږی .

**یوڅلویښتمه ماده :ــ** ددی قانون دنافذ کیدونه وروسته هغه ټول احکام چه ددی قانون دموادو سره نقیض وی اعتبار نه لری .

## په قضاء مقرری

**دقضائی صلاحیت اوتشکیلاتو دقانون د(۸۱) مادی دحکم سره سم په ستره محکمه کښی دلاندی مقرری شویدی:**

ښاغلی عبدالحمید نصیردعدلیی‌د وزارت پلټنی اداری مدیر دتفتیش دریاست دغړی په حیث .

ښاغلی میرمحمدحسین حسینی‌دعدلیی دوزارت مامور دتحریراتو‌او مراقبت دریاست دتحریراتو د مدیرپه حیث .

ښاغلی مولوی فضل‌الله دکابل‌دزاړه ښار دمحکمی قاضی د نیمروز دولایت دمحکمی درئیس په کفالت .

ښاغلی صاحب خان دهرات دولایت دریاست دمحکمی دتجارتی‌دیوان غړی دانجیل دمحکمی دغړی په حیث .

ښاغلی عبدالغفور ملیح دغزنی دولایت دریاست دمحکمی د تجارتی دیوان غړی دهرات دولایت دمحکمی‌دریاست دتجارتی دیوان په حیث .

ښاغلی محمدطاهر خلیل دپلټنی دریاست غړی د همدی ریاست دګروپ درئیس په حیث .

ښاغلی عبدالقادر ستار دبلخ دولایت دمحکمی غړی دبلخ دشورتیپی دابتدائیه محکمی دقاضی په حیث .

ښاغلی محمد سعید د سپیری د محکمی قاضی د سید کرم دابتدائیه محکمی دقاضی په حیث .

ښاغلی رفیع دکابل دمحکمی دعامه حقوقو د دیوان غړی د زرمت دابتدائیه محکمی دقاضی په حیث .

ښاغلی امیرمحمد د هلمند د نوزاد دابتدائیه محکمی قاضی‌دشکردری دابتدائیه محکمی دقاضی په حیث .

ښاغلی عبدالغفور دښیوی دابتدائیه محکمی قاضی دتخار د ولایت دمحکمی دریاست دمعاملاتو اوجزاء ددیوان دغړی په حیث .

ښاغلی محراب علی دشکردری دابتدائیه محکمی قاضی دبغلان‌دولایت دریاست دمحکمی دغړی په حیث .

**مادهٔ سی وچهارم :** محصلان میتوانند به فعالیت های ادبی هنری وورزشی اقدام نمایند پروگرامهای ادبی وهنری درپوهنتون هیچگاه‌مخالف اساسات اسلامی وفرهنگ ملی‌بوده نمیتواند مباحثات سیاسی در داخل مقررات پوهنتون مجاز است .

**مادهٔ سی وپنجم :ــ** بمنظور ایجاد فضای همکاری باهمی وتولید حسن تفاهم بین محصلین وکسب‌تجارب علمی وعملی ازهمدیگر وبرای برقراری ارتباط آنها باپوهنتون مطابق به قانون جمعیت‌ها انجمن‌محصلین تأسیس شده میتواند .

**مادهٔ سی‌وششم :ــ** محصلان مکلف‌اند درداخل پوهنتون‌بایونیفورمی که ازپارچه وطنی تهیه میشود ملبس باشند رنگ وطرز این یونیفورم ضمن لایحهٔ جداگانه تنظیم می‌گردد.

## فصل هشتم
## امور مالی

**مادهٔ سی‌وهفتم :ــ** بودجه پوهنتون ها ازطرف دولت تأمین میشود . پوهنتون‌ها میتوانند برای انکشاف خود هبه اشخاص حقیقی‌وحکمی داخلی وخارجی را بپذیرند. قبول هبه ازصلاحیت شورای عالی پوهنتون میباشد .

**مادهٔ سی‌وهشتم :ــ** بودجه پوهنتون به وسیلهٔ ریاست پوهنتون ترتیب شده پس ازتائید شورای عالی پوهنتون به حکومت تقدیم‌میشود.

**مادهٔ سی ونهم :ــ** امور مالی وحسابی پوهنتون‌ها عموماً تابع‌قوانین ومقررات حسابی دولت میباشد تنها درموارد خاص علمی شورای عالی پوهنتون میتواند مقررات خاصی وضع نماید .

## فصل نهم
## احکام متفرق

**مادهٔ چهلم :ــ** این قانون بعدازنشر آن درجریدهٔ رسمی نافذمیگردد.

**مادهٔ چهل ویکم :ــ** بعد ازنفاذ این قانون تمام احکامیکه نقیض‌مواد این قانون باشد ازاعتبار ساقط میباشد .

## تقرر درقضاء

**بروفق حکم مادهٔ (۸۱) قانون‌صلاحیت وتشکیلات قضائی مقرری‌های آتی در ستره محکمه صورت گرفته است .**

ښاغلی عبدالحمید نصیر مدیراداری مدیریت عمومی تفتیش وزارت عدلیه بحیث عضو ریاست تفتیش .

ښاغلی میرمحمد حسین مامور وزارت عدلیه بحیث مدیر تحریرات ریاست تحریرات ومراقبت .

ښاغلی مولوی فضل‌الله قاضی محکمه ابتدائیه شهر کهنه بکفالت ریاست محکمه ولایت نیمروز .

ښاغلی صاحب خان عضو دیوان تجارتی ریاست محکمه ولایت‌هرات بحیث عضو محکمه ابتدائیه انجیل ولایت هرات .

ښاغلی عبدالغفور ملیح عضو تجارتی محکمه ولایت غزنی به عضویت دیوان تجارتی محکمه ولایت هرات .

ښاغلی محمد طاهر خلیل عضو ریاست تفتیش بحیث رئیس گروپ تفتیش .

ښاغلی عبدالقادر ستار عضو محکمه ولایت بلخ بحیث قاضی‌محکمهٔ ابتدائیه شورتیپه بلخ .

ښاغلی محمدسعیدقاضی سپیره‌بحیث قاضی‌محکمه ابدائیه‌سیدکرم.

ښاغلی رفیع‌الله عضو دیوان حقوق عامه ولایت کابل بحیث قاضی محکمهٔ ابتدائیه زرمت .

ښاغلی امیرمحمد قاضی محکمهٔ ابتدائیه نوزاد هلمند بحیث قاضی محکمهٔ ابتدائیه شکردره .

ښاغلی عبدالغفور قاضی محکمه ابتدائیه شیوه بحیث عضو دیوان معاملات وجزاء ریاست محکمهٔ ولایت‌تخار .

ښاغلی محراب علی قاضی محکمهٔ ابتدائیهٔ شکردره بحیث عضو ریاست محکمهٔ ولایت بغلان .

113,22,9,68

# اعلان ازطرف مدیریت عمومی ثبت اسناد وعلایم تجارتی

**موسسه (میت سوبیشی جوکوگوکابوشی کایشا) که مرکز اصلی آن درشهر (توکیو) مملکت جاپان واقع است .**

Mitsubishi Jukogyo Kabushiki Kaisha, No. 10 Marunouchi 2-chme, Chiyoda-ku, Tokyo, Japan.

میخواهد علا مات منسوبهٔ‌خودرا قرار ذیل ثبت دفتر ثبت اسناد علایم تجارتی‌نماید.

علامت مقابل :

Canter

وکلمات :

**JUPITER**
**DEBONAIR**
**COLT**
**FUSO**

بروی تولیدات واجناس ذیل :

(وسایل حمل ونقل ازراه زمینی، هوائی وبحری طبقه ۱۲) بکار برده می‌شود .

موضوع جهت اطلاع علاقمندان‌اعلان‌شد، هرگاه اشخاص‌ومؤسسات بر علامت مذکور کدام اعتراض داشته باشند الی پانزده روز بمدیریت عمومی ثبت اسناد وعلایم‌تجارتی مراجعه نمایند .

**موسسهٔ (ناشنال بروینگ) که مرکز اصلی آن درشهر (مریلیند) مملکت (امریکا) واقع است .**

The National Brewing Co, Meryland Corporation 3720 Dillon Street, City of Baltimore, State of Maryland, U.S.A.

میخواهد علا مت منسوبهٔ‌خود را که عبارت از علا مت مقابل میباشد و بروی تولیدات واجناس ذیل :

Colt

(مشروبات حاوی مالت طبقات ۳۲و۳۳) بکار برده می‌شود. ثبت دفتر ثبت اسناد وعلایم تجارتی دیوان استیناف تجارتی نماید .

موضوع جهت اطلاع علاقمندان علان‌شد، هرگاه اشخاص‌ومؤسسات بر علامت مذکور کدام اعتراض داشته باشند الی پانزده روز بمدیریت عمومی ثبت اسناد وعلایم‌تجارتی مراجعه نمایند .

**موسسهٔ (امریکن‌توباکو کمپنی)که مرکز اصلی آن‌درشهر (نیویارك) مملکت (امریکا) واقع است .**

The American Tobacco Company, a New Jersey Corporation, 245 Park Avenue, New York, N.Y., U.S.A.

میخواهد علامت منسوبه خود راکه‌عبارت از کلمه:

**SILVA THINS**

میباشد و بروی تولیدات و اجناس‌ذیل :

(توتون‌اعم‌ازتهیه‌شده یاخام‌سگرت‌وسیگار طبقه۳٤)بکاربرده‌میشود. ثبت دفتر ثبت اسناد وعلایم تجارتی دیوان استیناف تجارتی نماید .

موضوع جهت اطلاع علاقمندان‌اعلان‌شد، هرگاه اشخاص‌ومؤسسات بر علامت مذکور کدام اعتراض داشته باشند الی پانزده روز بمدیریت عمومی ثبت اسناد وعلایم‌تجارتی مراجعه نمایند .

**موسسهٔ (استاندارد اویل کمپنی‌اف کلیفورنیا) که مرکز اصلی آن درشهر (ایالت سانفرانسسکو) مملکت (امریکا) واقع است .**

STANDARD OIL COMPANY OF CALIFORNIA a Delaware Corporation, 100 West Tenth Street, City of Wilmington, State of Delaware, U.S.A. and 225 Bush Street, City of San Francisco, State of California, United States of America

میخواهد علامت منسوبه خودرا که عبارت از علامت مقابل میباشد و بروی تولیدات و اجناس مشمول طبقه (۵) بکار برده میشود .

ثبت دفتر ثبت اسناد وعلایم تجارتی دیوان استیناف تجارتی نماید .

موضوع جهت اطلاع علاقمندان‌اعلان‌شد، هرگاه اشخاص‌ومؤسسات بر علامت مذکور کدام اعتراض داشته باشند الی پانزده روز بمدیریت عمومی ثبت اسناد وعلایم‌تجارتی مراجعه نمایند .

**به تعقیب اعلان قبلی‌علامت منسوبهٔ مؤسسهٔ (تویوریون‌کمپنی‌لمتد) که مرکز اصلی آن درشهر (توکیو) مملکت (جاپان) واقع است.**

Toyo Rayon Company Limited, N 2,2 Chome, nihonbachi-Muromachi, Chuo-Ku, Tokyo, Japan.

عبارت از کلمه: **TORAYLON**

میباشد وبروی تولیدات واجناس‌ذیل:

(الیاف بلند جهت منسوجات، انواع نخ وریسمان، انواع قماش وپارچه اعم ازکشباب یاتوری یابافته‌شده یانبافته نشده انواع پوشاك طبقات ۲۳–۲٤–٤٥) بکار برده می‌شود وبموجب اظهار نامهٔ (۳۳٦) تاریخی ۲٤–٤–٤۷ درصفحه (۵) جلد (٤) تحت شماره (۱٤٤۵) ثبت دفتر ثبت اسناد وعلایم تجارتی دیوان استیناف تجارتی گردیده است .

طبق مواد (۱٦–۱۷) قانون ثبت‌علایم تجارتی‌علامت ثبت شدهٔ‌مذکور برای مدت ده سال حمایه میگردد .

**به تعقیب اعلان قبلی علامت منسوبهٔ‌موسسهٔ (ن.و. اورگانون)که مرکز اصلی آن درشهر (اوس) مملکت (هلند) واقع است .**

N.V. Organon Oss Holland.

عبارت از کلمهٔ : **OVANON**

میباشد و بروی تولیدات و اجناس‌ذیل :

(انواع دارو وترکیبات داروئی جهت انسان وبیطاری طبقه۵) بکار برده می‌شود .

وبموجب اظهار نامهٔ (۳۰۱) تاریخی ۸–٤–٤۷ درصفحه (٤۸) جلد (٤) تحت شماره (۱٤٤۳) ثبت دفتر ثبت اسناد وعلایم تجارتی دیوان استیناف تجارتی گردیده است .

طبق مواد (۱٦–۱۷) قانون ثبت‌علایم تجارتی‌علامت ثبت شدهٔ‌مذکور برای مدت ده سال حمایه میگردد .

**به تعقیب اعلان قبلی علامت منسوبهٔ موسسهٔ (گاف‌کورپوریشن)که مرکز اصلی آن درشهر (نیویارك) مملکت (امریکا) واقع است .**

Gaf Corporation, a Delaware Corporation, 140 West 51 st Street, New York, U.S.A.

gaf

عبارت از علا مت مقابل میباشد و بروی تولیدات و اجناس‌ذیل :

شامل طبقات (۱–۲ –۳ – ٤ – ۹ – ۱٦ – ۱۷ – ۱۹ – ۲۲و۱۱) بکار برده می‌شود .

**وبموجب اظهار نامهٔ (۳۳۵) تاریخی ۲٤–٤–٤۷ درصفحه (٤۹)جلد (٤) تحت شماره (۱٤٤٤) ثبت دفتر ثبت اسناد وعلایم تجارتی دیوان استیناف تجارتی گردیده است .**

طبق مواد (۱٦–۱۷) قانون ثبت‌علایم تجارتی‌علامت ثبت شدهٔ‌مذکور برای مدت ده سال حمایه میگردد .

**دبناغلی د یرج سنگ سودا گـرتجارتی خصوصیات په لاندی ډول داستیناف تجارتی دیوان داسنادو دثبت په آمریت کبنی ثبت شویدی :**

۱ـ دسو داگرنوم: دیرج سنگ.
۲ـ دپلار نوم کشن سنگ .
۳ـ دزیږید لو نیټه او ځای :کابل په ۱۳۲۰ هـ . ش کال کبنی .
٤ـ تا بعیت : افغان د ۱۰۰۳۷۷لمبر تذکری لرو نکی .
٥ـ دتجارت عنوان: دیرج‌سنگ. ٦ـ دتجارت مو ضوع:
۱ـصادرات : وچه او تازه میو ه‌او حبو بات .
۲ـ واردات : رخـت بـاب ا وسیمسماری .
۷ـ دتجار تخی پته: دا فغـا ن‌په ما رکیت کبنی.
۸ـ دلاسلیك صلا حیت لرو نکی‌کسان : دد یرج سنـــگ لاسلیـك اعتبار لـر ی .

**د بناغلی محمدخان تاجر تجارتی‌خصوصیات د تجار تـی استینـاف ددیوان داسنادو دثبت په اداره کبنی‌په لاندی ډول ثبت شوی دی**

۱ـ د تـاجر نوم : محمد خان.
۲ـ د پـلار نوم : گلاب خان.
۳ـ دزیږیـدو ځای او نـیټه:کابل ـ ۱۳۱٤ ش .
٤ـ تـابـعیـت : افـغـان د۹۷۱۸۳٦ گڼه تذکری خاوند .
٥ـ د تـجا ر ت عـنـو ا ن :محمد خان .
٦ـ د تـجارت موضوع : ۱ـصادرات: وچه اوتازه میوه .
۲ـ واردات: چای، رخت .
۷ـ تـجا ر ت ځـا ی : سعادت سرای .
۸ـ دلاس لیك واکمن‌کسان: دمحمدخان لاس لیك اعتبار لری .

**د حاجی شهاب‌الدین تاجر تجارتی‌خصوصیات د تجار تـی استینـاف ددیوان داسنادو دثبت په اداره کبنی‌په لاندی ډول ثبت شوی دی :**

۱ـ د تاجر نوم : حاجی شهاب‌الدین .
۲ـ د پـلار نوم : غلام قادرخان .
۳ـ دزیږیـدو ځای او نـیټه:کابل ۱۳۰۱ ش .
٤ـ تـابعیـت : افـغـان د۱۰٤٦٤۹ گڼی تذکری خاوند .
٥ـ د تـجا ر ت عـنـو ا ن :حاجی شهاب‌الدین .
٦ـ دتجارت موضوع: ۱ـ صادرات: وچه اوتازه میوه، پوټکی‌قالین.
۲ـ واردات: رادیو، دموټر سامان، څرمن، رخت، بایسکل، خورده فروشی، ماشین باب .
۷ـ تـجا ر ت ځـا ی : دمیوند واټ دوهمه برخه .
۸ـ دلاس لیك واکمن‌کسان: دحاجی شهاب‌الدین‌لاس‌لیك‌اعتبارلری.

**د بناغلی لـونـگ تاجر تجارتی‌خصوصیات د تجار تـی استینـاف ددیوان داسنادو دثبت په اداره کبنی‌په لاندی ډول ثبت شوی دی :**

۱ـ دتاجر نوم: لونگ .
۲ـ د پلار نوم : ناصر خـان
۳ـ دزیږیـدو ځای او نـیټه:کابل ۱۳۱٦ ش .
٤ـ تـابـعیـت : افـغـان د۹۱۷۰۳ گڼه تذکری خاوند .
٥ـ د تـجا ر ت عـنـو ا ن : لونگ .
٦ـ د تـجارت موضوع : ۱ـصادرات: وچه اوتازه میوه‌اوحبوبات.
۲ـ واردات : چای، بنجارگی،دخاروتیل، تازه میوه .
۷ـ تـجا ر ت ځـا ی : برادران سرای .
۸ـ دلاس لیك واکمن‌کسان: دلونگ لاس لیك اعتبار لری .

**د بناغلی محمد ظاهر سوداګر تجارتی خصوصیات په لاندی ډول داستیناف تجارتی دیوان داسنادو دثبت په آمریت‌کبنی ثبت شویدی.**

۱ـ دسوداګر نوم: محمدظاهر .
۲ـ دپلار نوم: حاجی مظلوم‌شاه .
۳ـ دزیږیدلو نیټه‌اوځای: دکوهدامن‌په میرنچه کوت په ۱۳۱٦هـ .ش کال کبنی .

**خصوصیات تجارتی بناغلی‌دیرج سنگ تاجر قـرار ذیل بـه ثبت آمریت ثبت اسناد دیوان استیناف‌تجارتی رسیده است :**

۱ـ اسم تاجر : دیرج سنگ.
۲ـ ولد : کشن سنگ.
۳ـ محل تو لد وتاریخ: کا بل‌درسنه ۱۳۲۰ ش .
٤ـ تا بعیت : افغان د ا رنـدۀ‌تذکرۀ نمبر ۱۰۰۳۷۷ .
٥ـ عنوان تجارت : دیرج سنگ.
٦ـ موضوع تجارت:۱ـ صادرات:میوه خشك وتازه و حبو بات .
۲ـ واردات : رخـت بـــاب وسیمسماری .
۷ـ موضع تجار تخانه : ا فغا نما رکیت.
۸ـ اشخاص‌دارای‌صلاحیت‌امضاء: امضاء دیرج‌سنگ اعتبار دارد .

**خصوصیات تجارتی بناغلی محمدخان‌تاجر قرار ذیل به ثبت آمریت ثبت اسناد دیوان استیناف تجارتی‌رسیده‌است.**

۱ـ اسم تاجر : محمد خـان.
۲ـ ولـد : گـلاب خـان.
۳ـ محل تولد وتاریخ : کابل‌درسنه ۱۳۱٤ ش .
٤ـ تـابـعیـت : افـغـان دارندۀ تذکرۀ نمبر ۹۷۱۸۳٦ .
٥ـ عـنـوان تـجـا ر ت : محمد خان .
٦ـ مـو ضوع تـجارت : ۱ـصادرات : مـیـوه خشك و تـازه،
۲ـ واردات: چای، رخت باب.
۷ـ مـو ضع تجـارتخانـه :سرای سعادت .
۸ـ اشخاص‌دارای‌صلاحیت‌امضاء: امضاء محمدخان مدار اعتباراست.

**خصو صیات تجارتی بنا غلی‌شهاب الدین تاجر قرار ذیل به‌ثبت آمریت ثبت اسناد دیوان استینا ف‌تجارتی رسیده است :**

۱ـ اسم تاجر : حاجی شهـا ب‌الدین .
۲ـ ولد : غلام قادر خان .
۳ـ محل تولد وتاریخ : کابل درسنه ۱۳۰۱ ش .
٤ـ تابعیت : افغان دارندۀ تذکره‌نمبر ۱۰٤٦٤۹
٥ـ عنوان تجارت : حاجی شهاب‌الدین .
٦ـموضوع‌تجارت:۱ـ صادرات: میوه‌خشك وتازه، پوست‌باب‌قالین.
۲ـ واردات : رادیو ، سامان‌موتر،چرم رخت باب، بایسکل ،خورده فروشی ، ماشین باب .
۷ـ موضع تجارتخانه : حصه‌دوم‌جاده میوند .
۸ـ اشخاص‌دارای‌صلاحیت‌امضا ء:امضاءحاجی‌شهاب‌الدین‌اعتباردارد.

**خصوصیات تجارتی‌بناغلی لونگ‌تاجر قرار ذیل به ثبت آمریت ثبت اسناد دیوان استیناف تجارتی‌رسیده‌است.**

۱ـ اسم تـا جـر : لـونـگ.
۲ـ ولـد : نـاصر خان .
۳ـ محل تولد وتاریخ: کابل‌درسنه ۱۳۱٦ ش .
٤ـ تـابـعـیـت : افـغـان دارندۀ تذکرۀ نمبر ۹۱۷۰۳ .
٥ـ عنوان تجارت : ۱ـ صادرات: میوه خشك وتازه، حبوبات .
۲ـ واردات : چای، بنجارگی،تیل خاك، میوه تازه .
٦ـ موضع تجارتخانه : سرای‌برادران .
۷ـ اشخاص دارای صلاحیت امضاء : امضاء لونگ اعتبار دارد .

**خصوصیات تجارتی بناغلـی محمد ظـاهر تاجر قرار ذیل به ثبت آمریت ثبت اسناد دیوان استیناف تجارتی رسیده است .**

۱ـ اسم تاجر: محمد ظاهر .
۲ـ ولد : حاجی مظلوم‌شاه .
۳ـ محل تولد وتاریخ: میرنچه کوت کوهدامن درسنه ۱۳۲٦ ش.

٤ـ تابعیت: افغان د۵۰٦۳۹۲ لمبر تذکری لرونکی .
٥ـ دتجارت عنوان: محمدظاهر .
٦ـ دتجارت موضوع: ١ـ صادرات: وچه اوتازه میوه، هنگ، زیره پوست، غالی اوحبوبات .
٢ـ واردات: چای، بنجارگی، ماشین باب، دکرهنی اوصناعتی‌آلات.
٧ـ دتجارتخی پته: دزرداد سرای .
٨ـ دلاسلیک صلاحیت لرونکی اشخاص : دمحمدظاهر لاسلیک اعتبار لری .

**د ښاغلی محمد سوداگر تجارتی خصوصیات په لاندی ډول داستیناف تجارتی دیوان داسنادو دثبت په آمریت‌کښی ثبت شویدی.**
١ـ دسوداگر نوم: محمد .
٢ـ دپلار نوم: حاجی شیرعلم .
٣ـ دزیږیدلو نیټه اوځای: کابل په ١٣٢٢هـ . ش کال کښی .
٤ـ تابعیت: افغان د ٧٧٨٣٠٧ لمبر تذکری لرونکی .
٥ـ دتجارت عنوان: محمد .
٦ـ دتجارت موضوع : ١ـ صادرات: وچه اوتازه میوه .
٢ـ واردات: چای، رخت باب اوسند .
٧ـ دتجارتخی پته: دزرداد سرای .
٨ـ دلاسلیک صلاحیت لرونکی اشخاص: دمحمد لاسلیک اعتبارلری.

**د ښاغلی کشن لعل سوداگر تجارتی خصوصیات په لاندی ډول داستیناف تجارتی دیوان داسنادو دثبت په آمریت‌کښی ثبت شویدی.**
١ـ دسوداگر نوم: کشن لعل .
٢ـ دپلار نوم: لچمن داس .
٣ـ دزیږیدلو نیټه اوځای: کابل په ١٣١٠هـ .ش‌کال کښی .
٤ـ تابعیت: افغان د٦١٣٣٩ لمبر تذکری لرونکی .
٥ـ دتجارت عنوان: کشن لعل .
٦ـ دتجارت موضوع: ١ـ صادرات: وچه اوتازه میوه، دطبی‌نباتات زیره، هنگ، پوست باب، غالی‌اوحبوبات.
**٢ـ واردات:** رخت باب، بنجارگی،روغنیات، دودانولو سامان،سفیده ماشین باب، کریانه، دموتر سامان، آهن باب، خورده خرخول، دعکاسی سامان، صابون، قرطاسیه اوسندی اونخی تار .
٧ـ دتجارتخی پته : هزار گل سرای .
٨ـ دلاسلیک صلاحیت‌لرونکی‌اشخاص: دکشن‌لعل‌لاسلیک‌اعتبارلری.

**د ښاغلی سید رحیم سوداگر تجارتی خصوصیات په لاندی ډول داستیناف تجارتی دیوان داسنادو دثبت په آمریت‌کښی ثبت شویدی.**
١ـ دسوداگر نوم: سیدرحیم .
٢ـ دپلار نوم: سیدابراهیم .
٣ـ دزیږیدلو نیټه اوځای: کابل په ١٣٠٧هـ . ش‌کال کښی .
٤ـ تابعیت: افغان د٢٣٠١٧٦لمبر تذکری لرونکی .
٥ـ دتجارت عنوان: سیدرحیم .
٦ـ دتجارت موضوع : ١ـ صادرات: وچه اوتازه میوه .
٢ـ رخت باب اوچای .
٧ـ دتجارتخی پته: حاجی غوث‌الدین سرای .
٨ـ دلاسلیک صلاحیت لرونکی اشخاص: دسیدرحیم‌مهر اعتبارلری.

**د ښاغلی حبیب‌الله سوداگر تجارتی خصوصیات په لاندی ډول داستیناف تجارتی دیوان داسنادو دثبت په آمریت‌کښی ثبت شویدی.**
١ـ دسوداگر نوم : حبیب‌الله .
٢ـ دپلار نوم : لعل‌محمد .
٣ـ دزیږیدلو نیټه اوځای: کابل په ١٣١٠هـ . ش کال‌کښی .
٤ـ تابعیت: افغان د ٩١٢٠٨٧ لمبر تذکری لرونکی .
٥ـ دتجارت عنوان: حبیب‌الله .
٦ـ دتجارت موضوع : ١ـ صادرات: وچه اوتازه میوه .
٢ـ واردات: چای اورخت باب .
**٧ـ تجارتخی پته: دسعادت په سرای کښی .**
٨ـ دلاسلیک صلاحیت لرونکی‌اشخاص:دحبیب‌الله‌لاسلیک‌اعتبارلری.

٤ـ تابعیت: افغان دارندهٔ تذکره نمبر ۵۰٦۳۹۲ .
٥ـ عنوان تجارت: محمدظاهر .
٦ـ موضوع تجارت: ١ـ صادرات: میوه خشک وتازه، هنگ، زیره پوست، قالین وحبوبات .
٢ـ واردات: چای، بنجارگی، ماشین باب، آلات زراعتی وصناعتی.
٧ـ موضع تجارتخانه: سرای زرداد .
٨ـ اشخاص‌دارای‌صلاحیت‌امضاء: امضاء محمدظاهرمداراعتباراست.

**خصوصیات تجارتی ښاغلی محمد تاجر قرار ذیل به ثبت آمریت ثبت اسناد دیوان استیناف‌تجارتی رسیده است :**
١ـ اسم تاجر: محمد .
٢ـ ولد : حاجی شیرعلم .
٣ـ محل تولد وتاریخ: جلال آباد درسنه ١٣٢٢ ش .
٤ـ تابعیت: افغان دارندهٔ تذکره نمبر ٧٧٨٣٠٧
٥ـ عنوان تجارت: محمد .
٦ـ موضوع تجارت: ١ـ صادرات: میوه خشک وتازه .
٢ـ واردات: چای، رخت باب وسند .
٧ـ موضع تجارتخانه: سرای زرداد .
٨ـ اشخاص دارای صلاحیت امضاء : امضاء محمدمداراعتبار است.

**خصوصیات تجارتی ښاغلی کشن لعل تاجر قرار ذیل به ثبت آمریت ثبت اسناد دیوان استیناف تجارتی رسیده است .**
١ـ اسم تاجر: کشن لعل .
٢ـ ولد: لچمن داس .
٣ـ محل تولد وتاریخ : کابل درسنه ١٣١٠ش .
٤ـ تابعیت: افغان دارندهٔ تذکرهٔ نمبر ٦١٣٣٩
٥ـ عنوان تجارت: کشن لعل .
٦ـ موضوع تجارت: ١ـ صادرات: میوه خشک وتازه، نباتات طبی زیره، هنگ، پوست باب، قالین وحبوبات .
٢ـ واردات: رخت باب، بنجارگی ، روغنیات، سامان تعمیراتی سفیده، ماشین باب، کریانه، سامان موتر، آهن باب، خورده فروشی سامان عکاسی، صابون، قرطاسیه وتارسندی ونخی .
٧ـ موضع تجارتخانه: سرای هزار گل .
٨ـ اشخاص دارای صلاحیت امضاء : امضاء کشن لعل اعتباردارد.

**خصوصیات تجارتی ښاغلی سیدرحیم تاجر قرار ذیل به ثبت آمریت ثبت اسناد دیوان استیناف تجارتی رسیده است .**
١ـ اسم تاجر: سیدرحیم .
٢ـ ولد : سیدابراهیم .
٣ـ محل تولد وتاریخ : کابل درسنه ١٣٠٧ ش .
٤ـ تابعیت: افغان دارندهٔ تذکرهٔ نمبر ٢٣٠١٧٦
٥ـ عنوان تجارت: سیدرحیم .
٦ـ موضوع تجارت: ١ـ صادرات: میوه خشک وتازه .
٢ـ واردات: رخت باب وچای .
٧ـ موضع تجارتخانه : سرای حاجی غوث‌الدین .
٨ـ اشخاص دارای صلاحیت امضاء : مهر سیدرحیم اعتبار دارد .

**خصوصیات تجارتی ښاغلی حبیب‌الله تاجر قرار ذیل‌به ثبت آمریت ثبت اسناد دیوان استیناف تجارتی رسیده است .**
١ـ اسم تاجر: حبیب‌الله .
٢ـ ولد: لعل‌محمد .
٣ـ محل تولد وتاریخ: مشرقی درسنه ١٣١٠ ش .
٤ـ تابعیت: افغان دارندهٔ تذکره نمبر ٩١٢٠٨٧
٥ـ عنوان تجارت: حبیب‌الله .
٦ـ موضوع تجارت: ١ـ صادرات: میوه خشک وتازه .
٢ـ واردات: رخت باب وچای .
٧ـ موضوع تجارتخانه: سرای سعادت .
**٨ـ اشخاص‌دارای‌صلاحیت‌امضاء: امضاء حبیب‌الله مداراعتباراست.**

**دولتی مطبعه**